حکیم بشارت ۲۰۱۲/۰۷/۰۶

# فیضي :امریکا دې د سولې بهیر په چټکوالي کې

## له سیاسي او دیپلوماتیکو مجراو ګټه واخلي

افغان دولت له نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه له امریکا څخه وغوښتل، چې د سولې پروسې د چټکوالي په موخه دې له ټولو سیاسي او دیپلوماتیکو مجراو څخه په کار اخیستنې سره د افغانستان د سولې پروسې ملاتړ وکړي .
دغه څرګندونې د ولسمشر حامد کرزي ویاند ایمل فیضي د چنګاښ په ۱۵مه له پژواک خبري اژانس سره په یوه ځانګړې مرکه کې وکړې.
ده وویل، چې امریکا دې د سولې په برخه کې له پاکستان، قطر، سعودي او ترکیه سره د افغانستان دولت لخوا د پیل شویو کوښښونو ملاتړ کلک وکړي او په دې برخه کې دې وسلوال مخالفین د سولې بهیر ته وهڅوي.
فیضي د سولې په تړاو د امریکا د جدي همکارۍ غوښتنه وکړه او په دې برخه کې یې د هغوی هڅې اړینې وبللې.
د ده په خبره، د سولې په پروسه کې د پاکستان رول ډیر مهم او جدي دی.
نوموړي زیاته کړه: "موږ له پاکستان څخه غواړو، چې هغه افغان وسلوال مخالفین دې د سولې او خبرو مېز ته حاضر کړي، چې د دوی په هېواد کې مېشت دي."
دغه راز نوموړي په جاپان کې د یوه پوهنتون په نوښت د وسلوالو مخالفینو د استازیو جوړه شوې غونډه اغېزمنه وبلله او د یاد پوهنتون دغه ابتکار یې وستایه.
ده وویل، چې دغه ډول غونډې له افغان دولت سره د سولې بهیر په چټکوالي کې ډېره مرسته کوي او دوی یې هر کلی کوي.
فیضي سعودي عربستان ته د سولې د عالي شورا د مشر صلاح الدین رباني او ورسره پلاوي سفر، د سولې پروسې د ګړندۍ کولو په برخه کې هغه هڅې وبللې، چې د سولې عالي شورا یې تر لاس لاندې لري.
ده وویل، سعودي کولی شي، چې وسلوال مخالفین او هم پاکستان دې ته وهڅوي، چې د سولې د ټینګښت په برخه کې اغېزمن ګام پورته کړي.
د ولسمشر د ویاند په خبره ، چې سعودي عربستان د اسلامي هېوادونو په منځ کې ځانګړی مقام لري او د سولې په برخه کې پر وسلوالو مخالیفنو او پر پاکستان مثبت اغېز لرلی شي.
د هغه په وینا، د وسلوالو طالبانو یوه غړي څو ورځې مخکې جاپاني رسنیو سره د مرکې پر مهال ویلي، چې دوی غواړي د افغانستان له حکومت سره خبرې وکړي، دغه څرګندونې د خبرو اترو په پرمختګ کې مثبت ګام دی.
فیضي وایي، چې د افغانستان د دولت هغو وسلوالو مخالفینو سره د خبرو اترو هرکلی او ملاتړ کوي، چې د دې خاورې بچیان دي او د افغانستان اساسي قانون او د تېرو لسو کلونو لاسته راوړنو ته درناوی لري.
نوموړي له وسلوالو طالبانو وغوښتل، چې د بې ګناه عامو افغانانو له وژلو لاس واخلي، د سولې له پروسې سره یو ځای او د افغانستان په سیاسي بهیر کې ورګډ شي.
دغه راز فیضي، هغه ټول خبرونه، چې ګواکې له ۲۰۱٤ کال وروسته به په افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شي رد او دا یې د بهرنیو رسنیو تبلیغات او رواني جګړه وبلله.
ده وویل، چې له ۲۰۱٤ کال وروسته، چې کله بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي، نو دولت د امنیت د ټینګښت لپاره بشپړ چمتوالی لري.
نوموړي زیاته کړه : "د خپلې خاورې د دفاع په خاطر هر ورځ تر ۲۰ ډېر امنیتي ځواکونه او په دې خاوره مین بچیان ځانونه قرباني کوي."
ده وویل، چې د خپلې خاورې د ساتنې او د دښمن د له منځه وړلو په موخه د بامیانو امنیتي ځوان په هلمند او د هلمند ځوان د شمال په ناامنو سیمو کې او دغه راز د نورو ولایتونو ځوانان بیا په نورو ناامنو سیمو کې قربانۍ ورکوي.
د هغه په وینا، د دې خاورې د ساتنې دنده یواځې او یواځې د افغانانو ده او همدوی به لکه د اوس په څېر تر ۲۰۱٤ کال وروسته هم په ښه روحیه او ښه اکمال سره د خپلې خاورې امنیت ساتي.
فیضي زیاته کړه:" زموږ امنیتي ځواکونه اوس تر تېرو کلونو ډېر پیاوړي شوي دي او د دې وړتیا لري، چې د خپل ولس او له خپل هېواد څخه دفاع وکړي".
خو د ولسمشر ویاند وویل، چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې بیا ملي ځواکونه د نړیوالې ټولنې مرستې ته اړتیا لري او په دې برخه کې باید په ګډه کار وشي.
د ده په خبره، دغه راز دا د سیمې او ګاونډیو هېوادونو دنده ده، چې د ترهګرۍ پر وړاندې ګډې مبارزې ته


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

راوړاندې شي.
د هغه په وينا، په تېرو لسو کلونو کې د ترهګرۍ پر وړاندې د بشپړ برياليتوب نه ترلاسه کولو لوی لامل په سيمه ييزه کچه نه همکاري وه.
فيضي وايي"موږ پخپلو ملي ځواکونو باور لرو او پرې وياړو".
نوموړي له نړيوالې ټولنې وغوښتل، چې د افغان ملي ځواکونو د ځواکمنتيا او د افغانستان اقتصادي پرمختګ په برخه کې خپلو مرستو ته ادامه ورکړي.
همدارنګه د فساد په اړه د نړيوالې ټولنې د اندېښنو په اړه د ولسمشر وياند وويل، چې دا دوه بعده لري، يوه برخه يې په افغاني سيستم کې ده او بل يې نړيوال بُعد لري.
د هغه په وينا، په هغو مرستو او پيسو کې، چې له بهره راځي په هغې فساد زيات دی، د قراردادونو په ميکانيزم کې فساد دی او ځينې لوی قراردادونو مهمو او زورواکو خلکو ته ورکول کېږي.
د ده په خبره، دا يوه ډېره لويه سياسي او ټولنيزه ستونزه ده او افغان دولت ژمن دی، چې د هوارې هڅې يې نورې زياتې کړې.
هغه زياته کړه، چې په راتلونکو دوو کلونو کې افغان دولت خپلې هڅې زياتوي، چې ملي اداري ځواکمنې او اداري فساد سره کلک مبارزه وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ